1.0 نسخه (د 2021 - ام کال د فبروی میاشت)

**د مقدماتی پروګرام [introduksjonsprogrammet] د غیرحاضری ، رخصتی ، تفریحی رخصتی مقررات**

د پروګرام د غیرحاضری مقررات په مجموع کی د کاری ژوند د مقرراتو سره سمون خوری. یو استثناء په کې دا ده چې تاسو نه شي کولای چې په قسمي توګه د ناروغي د رخصت رقعه ولرئ. د رخصتی د اخیستلو په هکله د ګډونکوکو لپاره خاص مقررات موجود دي چې د عادي کاری مقرراتو سره توپیر لری.

که چیرته تاسو ناروغه یاست تاسو باید کمون ته ، ښوونکي ته او یا هغه کاری ځای ته چې تاسو په کې تمرینی کار کوئ ، خبر ورکړئ . که ستاسو غیر حاضري د یو معقول عذر په اساس وي نو تاسو د پروګرام د معاش حق لرئ. که چیرته تاسو د ناروغي ورقه و نه لیږئ ، او یا غیر حاضری مو د ډاکتر د تصدیق سره تثبیت نه کړئ او یا تاسو ته با معاشه رخصتی منل شوي نه وي، نو د تاسو د معاش څخه به د هغه ساعتونو او ورځو معاش وګرځول شي چې تاسو غیر حاضر وئ. هغه غیر حاضری به یا بی اعتباره ، او یا بی سنده غیر حاضری حساب شي. غیر معقوله یا بی اعتباره غیرحاضری کیدای شي ددې لامل شي چې تاسو په پروګرام ګډون حق له لاسه ورکړئ او د پروګرام معاش لاس ته را نه وړئ.

**ناروغي**

که چیرته د تاسو ناروغی په پروګرام کي د تاسو د ګډون مانع کیږئ نو تاسي کولای شي چې د ناروغي رقعه وکاروی او یا د ډاکتر څخه تصدیق راوړئ او د پروګرام مصروفیت ته حاضر نه شئ. د مریضي رقعه تاسو کولای شي چې کمون ته په تحریری او یا شفاهی توګه د پروګرام مرکز ته ، د پروګرام مشاور او یا خپل ښوونکي ته خبر ورکړئ او ووایئ چې تاسو ناورغه یاست .

- وروسته له دې چې تاسو په پروګرام کې 8 اونی ګډون وکړ نو تاسو د پروګرام څخه د ناورغي رخصت حق لاس ته راوړئ او د هغه څخه کار اخیستلای شي . که چیرته تاسو په لومړیو 8 اونیو کي ناروغه شوی او پرګرام ته نه شي حاضریدلای تاسو باید د ډاکتر تصدیق راوړئ.
- تاسو کولای شي چې په 12 میاشتو کي 4 د رخصتی د رقعو څخه کار واخلي. د ناوغي هره رقعه تر 3 ورځو د اعتبار وړ ده.
- که چیرته تاسو د 3 ورځو څخه ډیر ناورغه پاتي شوئ نو تاسي باید د ډاکتر تصدیق راوړئ. همدا رنګه که چیرته تاسو په 12 میاشتو کي د ناروغي 4 رقعي وکارولې او بیا هم ناروغه شوې نو باید د ډاکتر تصدیق راوړئ.

که چیرته تاسو یو یا دوه ماشومان لرئ نو تاسو کولای شي چې تر 10 ورځو د ماشوم د ناروغي له کبله کور کي پاتي شئ.

که چیرته تاسو د دوه څخه ډیر ماشومان لرئ نو تاسو کولای شي چې په 12 میاشتو کي تر 15 ورځو پوری د ماشوم د ناروغي له کبله له د پروګرام څخه رخصت واخلئ.

که چیرته تاسو د ماشوم د پالنې مسئولیت یوازی لرئ ، بیا تاسو تر 20 ورځو پورې کولای شي چې رخصت واخلئ او که دو یا ډیر ماشومان ولرې نو بیا تاسو کولاې شي چې تر 30 ورځو پور رخصت واخلئ.

که چیرته تاسو یو ماشوم لرې چې مزمن ناروغي او یا معلولیت لري او دا ددې لامل ګرځي چې تاسو د پروګرام څخه ډیر غیرحاضر کیږئ ، بیا تاسو په 12 میاشتو کي کولای شي چې تر 20 ورځو د ماشوم د ناروغي له کبله رخصت واخلئ. که چیرته تاسو د پالنې مسؤلیت یوازی لرئ نو د رخصتی ورځي 40 ته زیاتیږي.

بعضی ګډون کوونکي هم کیدای شي چې د ماشوم د یوازې د پالنې مسؤلیت حقوق ورکړل شي که چیرته د ګډون کوونکي خاوند یا ښځه د ناروغه ماشوم سره نه شي اوسیدلای او د هغه پالنه نه شي کولای ځکه چې نوموړی یا معلول / معلوله ده و یا په کوم صحي برخه کي د ناروغي له کبله بستری ده.

نوموړي حقوق د هغه ماشوم ساتونکو (مور یا پلار) لپاره هم د عملی وړ دي خپله ناروغه وی.

که چیرته غیرحاضری د دری ورځو څخه زیاته وی نو کمون کولای شي چې د ماشوم او یا د ماشوم ساتونکو (مور یا پلار) د ناروغي د په هکله د ډاکتر تصدیق غوښتنه وکړي.

**د مقدماتی د پروګرام څخه رخصت اخیستل**

*د حامله ګي له کبله رخصتی*

که چیرته تاسو حامله داره یاست نو تاسو د پروګرام څخه هغه وخت سره د معاش د رخصتی حق لري چې تاسو د حامله ګي کنترول ته ځی او دغه کنترول د پروګرام د ګډون د وخت څخه پرته نه شي تر سره کیدلای. د حامله ګي په وخت کې تاسو تر لسو ورځو د پروګرام څخه سره د معاش د رخصتی حق لرئ.

**د شیدو ورکولو رخصت**

که چیرته تاسو خپل ماشوم ته د مور شیدی ورکوي نو تر هغه وخت چې ماشوم یو کلن کیږي تاسو تر یو ساعت د پروګرام څخه در رخصتی حق لرئ تر څو خپل ماشوم ته هره ورځ د مور شیدی ورکړئ.

**د ماشوم زیږیدنې او د فرزندي ماشوم د منلو له کبله د معاش څخه پرته د پروګرام څخه رخصت**

د ماشوم زیږیدنې یا ولادت څخه ورسته هغه میندې چې پروګرام کې ګډون لري تر هغه وخته چې ماشوم لس میاشتنې شي حق لري چې د پروګرام څخه رخصت واخلي.

کمون باید تاسو ته چې په یاد شوي رخصتیو کې یاست د ناروېژی د ژبې تمرین او یا د تدریس وړاندیز او زمینه برابره کړي. نوموړي وړاندیزونه د رخصتي د څلورمي میاشتي څخه پیل شي او د تاسو د وضیعت سره سمون ولري.

د ماشوم فرزندی نیولو په صورت کې هغه مور او یا پلار چې پروګرام کې ګډون لري تر لسو میاشتو د رخصتی حق لری که چیرته د فرزندی ماشوم عمر له 15 کلونو څخه کم وي.

که چیرته هم مور او هم پلار په پروګرام کې ګډون کوي نو د رخصتی 75 ورځې د مور لپاره او 75 ورځې د پلار لپاره غوره شوي دي. که چیرته پلار د رخصتی څخه کار نه اخلي نو هغه ورځې سوزي. که چیرته پلار د نارغي او یا یوي صدمي له کبله خپله مرستي ته اړ دي او یا په یوه صحي مرکز کې بستري دي نو ددې مقررې څخه استثناء هم کیدای شي چې ومنل شي. دا حالت باید د ډاکتر د تصدیق په واسطه تثبیت شي.

**رخصتي ګاني**

که چیرته تاسو د بیلګې په توګه ډاکتر ، د غابښو ډاکتر او یا د کار انترویو یا مرکي ته ځې او یا داسي نورو مسئلو کې نو تاسو کولای شي چې د کمون څخه د سوکالي رخصتي وغواړئ. که چیرته ستاسو ماشوم ښوونځي ته او یا وړکتون ته پیل کوي او ستاسو نږدې کورنی کې مړې شوې وي نو تاسو هم کولای شي چې د سوکالي رخصتي غوښتنه وکړئ. ددې په هکله تاسو کولای شي چې د خپل د پروګرام د مشاور څخه نور ډیر معلومات واخلي.

که چیرې تاسو او ستاسو ماشوم اوږدمهاله ناروغ شي او تاسو د ډاکتر تصدیق راوړئ نو تاسي کولای شي چې د پروګرام څخه رخصت واخلي. په هغه وخت کې تاسو کولای شي چې تر یو کاله د معاش څخه پرته د پروګرام څخه رخصت واخلي.

**عمومي رخصتي او مقدسي ورځي**

ټول د پروګرام څخه د شنبه او یکشنبه په ورځو کې رخصت دي.

لاندیني ورځي په ناروی کې مقدسي ورځي شمیرل کیږي او په دغو ورځو کې د پرګرام ګډون کوونکي رخصت دي: د مي د میاشتي لومړې ( 1 ) او اوه لسمه ( 17 ) ، د نوي کال لومړې ورځ ، د عیسویان مقدسه پنجشنبه او د عیسویانو اوږده جمعه د عیسویانو د اختر دوهمه ورځ ( 2 ) ، د عیسویانو د معراج ورځ ، د پینسي دوهمه ورځ ( 2 ) او د کرسمس لومړې ( 1 ) او دوهمه ( 2 ) ورځ.

که چیرته تاسو ددې تر څنګه نورې رسمي مقدسي ورځي لري نو تاسي کولای شي چې په کال کې تر دوه رسمي ورځو پورې نظر د ستاسو مذهب او دین پورې په انتخابي ورځو کې د پروګرام څخه د معاش سره رخصت واخلي. مخکي له دې څخه چې تاسو د خپل دغه حق څخه کار واخلي نو تاسو باید کمون ته کم له کمه 14 ورځي د مخه خبر ورکړئ.

**تفریحي رخصتي**

هر کال تاسو 25 ورځي د تفریحي رخصتي حق لرئ. په دې هکله کمون تصمیم نیسي چې تاسو کوم وخت باید رخصت واخلي. په تفریحي رخصتي کې تاسو د پروګرام د معاش حق لرئ.